# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**15سرطان _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


**جوزجان کې له درې سو زیاتو کورنیو سره نغدي مرستې وشوې-------------------------------------------------1**

**صد ها خانواده درولایت پکتیا مساعدت شد --------------------------------------------------------------------1**

**د کورنیو الحاق: اروپایي محکمې سویس د کډوالو د غوښتنو ردولو په تور جریمه کړ -------------------------------2**

**چک د مهاجرت په تړاو پر پولنډ او هنګري سختې نیوکې کړي دي -------------------------------------------------4**

**تلاش پناهجویان برای عبور از کانال مانش به قصد رسیدن به بریتانیا افزایش یافته است----------------------------4**

**افغانستان له بنګله دېش څخه لومړی یوه ورځنی سیالي وګټله ------------------------------------------------------6**

# متن کامل اخبار.

## جوزجان کې له درې سو زیاتو کورنیو سره نغدي مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت




**د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې له لورې د جوزجان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکاری ( ۳۶۸) کورنیو سره د چنګابښ په (۱۳) مه نغدي مرستي وشوې.**
**دغه کورنۍ، مخکې د جوزجان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لورې ددغه ولایت په درزآب ولسوالی کې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې له ډلې یې )۱۹۹ (کورنیوته (۹۸) زره افغانی او (۱۶۹) کورنیو هرې کورنی ته د کور جوړولو په موخه (۲۹) زره او (۱۵۰) افغانی نغدې ووېشل شوې.**
**د ویلوده، چې یادو کورنیو ته سره مخکې هم په لومړي قسط کې نغدي مرستې شوې وې.**

## صد ها خانواده درولایت پکتیا مساعدت شد

ویب سایت وزارت



**برای 548 خانواده درولایت پکتیا کمک نقدی کمیشنری سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان، به تاریخ 13 سرطان توزیع شد.**
**کمک مذکور برای هریک از خانواده های یادشده مبلغ 47 هزارو 700 افغانی بود .**

## د کورنیو الحاق: اروپايي محکمې سویس د کډوالو د غوښتنو ردولو په تور جریمه کړ

مهاجرنیوز




**د اروپا د بشري حقونو محکمې د سه شنبې په ورځ د سویس حکومت د اروپايي ټولنې له کنوانسیون څخه د سرغړونې په تور جریمه کړ. دا پرېکړه وروسته له هغه کېږي چې سویسي چارواکو څلورو کډوالو ته اجازه ور نه کړه چې خپلې کورنۍ سویس ته ور وغواړي.**

**د سویس چارواکو له خپلې پرېکړې دفاع کړې او ویلي يې وو د دغو کډوالو غوښتنې يې ځکه رد کړې چې دوی سوسیال مرستې ترلاسه کولې او عایدات يې نه درلودل.**

**د اروپا د بشري حقونو محکمې د تېرې سه شنبې په ورځ (د جولای ۳مه) وویل چې د سویس چاراوکو د اروپا د بشري حقونو کنوانسیون له ۸مې مادې څخه سرغړونه کړې ده او د یوه چیني او درېو اریتریایي کډوالو خصوصي او کورني ژوند ته يې درناوی نه دی کړی .**

**دغه کسان د ۲۰۰۸ او ۲۰۱۲ کلونو ترمنځ سویس ته رسېدلي او د استوګنې موقت سندونه يې ترلاسه کړي وو. د سویس حکومت یادو کډوالو ته ځکه پناه نه وه ورکړې چې په وینا يې دوی د پناه غوښتنې شرایط يې نه وو پوره کړي.**

**»چارواکو توازن نه دی ساتلی«**

**په سویس کې د موقتو سندونو څښتنان د ځینو شرایطو په پوره کولو سره له خپلو کورنیو سره د یو ځای کېدو غوښتنه کولی شي. د بېلګې په توګه، د الحاق غوښتونکي باید اقتصادي خپلواکي ولري. هغه مهال چارواکو ویلي وو چې دغه کسان سوسیالې مرستې ترلاسه کوي و او نور کوم عایدات نه لري.**

**خو د اروپا د بشري حقونو محکمې په خپله غونډه کې وویل چې د دغو کډوالو له ډلې څخه دوه تنه يې کار کوي او درېم کس د روغتيايي دلايلو له امله د کسب او کار توان له لاسه ورکړی دی. د محکمې په وينا، د سويس چارواکو د کډوالو د غوښتنې او ټولنيزو ګټو ترمنځ «توازن نه دی ساتلی.»**

**دغه قضايي اداري د سويس حکومت ته امر کړی دی چې دوو کډوالو ته دې ۵۱۲۵ يورو خو درېم کس ته بيا ۱۵۳۷۵ يورو جريمه ورکړي .**

## چک د مهاجرت په تړاو پر پولنډ او هنګري سختې نيوکې کړې دي

مهاجرنيوز

**چک جمهوريت پر پولنډ او هنګري د اروپايي اتحاديې د مهاجرت د پاليسی د خنډ جوړېدنې له کبله سختې نيوکې کړې دي.**

**د چک جمهوريت لومړي وزير پېټر فيالا پر پولنډ او هنګري سختې نيوکې کړې دي. دا ځکه چې په وينا يې يادو هيوادونو د مهاجرت او پناه غوښتنې په تړاو موضوعاتو کې د اروپايي اتحاديې په وروستی سرمشريزه کې د بلاک او خنډ دريځ نيولی و. فيالا د سه شنبې په ورځ (د ۲۰۲۳ کال د جولای ۴نېټه) په پراګ کې وويل: «دا د چيک جمهوريت د لېوالتياو په ګټه نه دی، دا مسؤلانه چلن نه دی«.**

**د فيالا په وينا په وارشاو او بوداپست کې د هغه هم منصبان و اقتصادي ملاتړ ته ګواښ جوړوي. هغه ملاتړ چې له اوکراين څخه د زيات شمېر جنګي مهاجرو د منل کېدنې په بدل کې هيوادونه ته پر ورکړه يې تفاهم شوی. د چک جمهوريت د لومړی وزير په آند دا خندونه په داسې حال کې رامنځته کيږي چې «بالآخره» په اروپايي اتحاديه کې د جوړجاړي په ترڅ کې د رد شوو مهاجرو د اخراج پر مؤثره سياست توافق وشو.**

**د چک جمهوريت لخوا دا ډول نيوکې غيرعادي ګڼل کيږي، ځکه چې دغه هيواد د هنګري، پولنډ او سلواکيې سره د ويزګراډ ډله کې نژدې همکاري کوي. پولنډ او هنګرۍ څو ورځې تر مخه د اروپايي اتحاديې په سرمشريزه کې د دغې اتحاديې د پناه غوښتنې د نظام د تعديل په اختلاف دريځ نيولی و. دغه تعديل د جون مياشتې په پېل کې د اتحاديې د غړو هيوادونو د کورنيو چارو د وزيرانو په غونډه کې په اکثريت د رايو منل شوی و .**

**د نوو پلانونو له مخې به له دې وروسته له هغو اروپايي هيوادونو څخه د مهاجرو منل رضاکارانه نه بلکه اجباري وي، کوم چې د مهاجرو د ډېر لوی شمېر سره مخامخ وي. هغه هيوادونه چې نه غواړي مهاجر ومني، هغوی به مکلف وي چې مصارف په غاړه واخلي.**

## تلاش پناهجویان برای عبور از کانال مانش به قصد رسیدن به بریتانیا افزایش یافته است

خامه پرس



طبق آمار دولت بریتانیا، در شش ماه گذشته حداقل ۱۱۴۳۴ پناهجو با قایق از طریق کانال مانش وارد این کشور شده اند.

به گزارش اسکای نیوز، تنها در ماه جون، ۳۸۲۴ پناهجو وارد بریتانیا شدند که افزایش بی سابقه‌ای در پنج سال گذشته نشان می‌دهد.

این رسانه افزوده که ۱۵۵ مهاجر در سه قایق جداگانه روز جمعه وارد بریتانیا شدند.

بر اساس آخرین گزارش ها، ورود پناهجویان به بریتانیا از طریق کانال مانش نسبت به سال های گذشته افزایش یافته است.

سال گذشته ۳۱۴۰ مهاجر پس از عبور از کانال انگلیسی وارد بریتانیا شدند .این رقم در سال ۲۰۲۱ حدود ۲۱۷۷، در سال ۲۰۲۰ به ۷۲۷ و در سال ۲۰۱۸ تنها چهار مورد بوده است.

ورود پناهجویان به بریتانیا بار دیگر بحث مهاجرت را در میان اعضای حزب راستگرای محافظه کار داغ کرده است و اکنون ریشی سوناک، نخست وزیر بریتانیا به دلیل ناتوانی در اجرای وعده خود برای جلوگیری از ورود پناهجویان، تحت فشار حزب خود قرار گرفته است.

سیاستمداران راستگرا ضمن مخالفت با سیستم مهاجرتی انعطاف پذیر بریتانیا، از ریشی سوناک خواسته اند تا مهاجرت به بریتانیا را به حداقل برساند.

لی اندرسون، نایب رئیس حزب محافظه‌کار بریتانیا، به پیامدهای فرهنگی اقتصادی مهاجرت اشاره کرد و گفت که کاهش تعداد پناهجویان به کشور بخش مهمی از درخواست این حزب است.

نخست‌وزیر حزب محافظه‌کار گفت: ما به‌عنوان اعضای حزب محافظه‌کار به دموکراسی و حکومت برای مردم بریتانیا اعتقاد داریم، نه مردم غیرانگلیس.

**اعضای حزب حاکم محافظه‌کار طرح ۱۲ ماده‌ای جدید را به نخست‌وزیر ارائه کرده‌اند که در بخشی از آن بر پایان دادن به ویزای موقت برای کارگران و محدود کردن تعداد پناهندگان مجاز به اقامت در بریتانیا تاکید شده است.**

## افغانستان له بنګله دېش څخه لومړی یوه ورځنۍ سیالي وګټله

د باختر اطلاعاتی آژانس




**کابل، د چنګاښ ۱٤مه، باختر**
**د افغانستان کرکټ ملي لوبډلي له بنګله دېش څخه د دریو یو ورځنیو سیالیو د لوبلړۍ لومړۍ لوبه وګټله.**
**د یادې لوبې پچه افغان لوبډلې وګټله، چې لومړۍ یې د توپ اچونې پرېکړه وکړه.**
**بنګله دېش لوبډلې په ټاکل شویو ٤۳ اوورونو کې د ۹ لوبغاړو په سوځېدو سره افغان لوبډلې ته ۱۷۰ منډې هدف ورکړ، چې افغان لوبډلې یې په ځواب کې ښه پیل وکړ، خو وروستیو کې د باران د اورښت له امله لوبه وځنډېده، چې د DLS اصولو له مخې دغه لوبه افغان لوبډلې د ۱۷ منډو په توپیر وګټله.**
**په یاد سیالۍ کې په توپ اچونه کې راشد خان او مجیب الرحمن څدراڼ دوه – دوه او فضل الحق فاروقي ۳ لوبغاړي وسوځول او تر ټولو زیاتې ٤۱ منډې هم ابراهیم څدراڼ جوړې کړې.**
**ټاکل شوې د یادې لوبلړۍ دوهمه لوبه د جولای میاشتې په ۸ مه نېټه ترسره شي.**